افغان امن تړیوال کنفرانس

اکتوبر 2019ز

باني باچاخان

# پښتون

چیف ایډیټر
حیات روغانی






کابل، کوئټه شورئ او د اقوام متحده اجلاس

since August 5, 2019
Khyber Pakhtunkhwa under Direct
**Martial Law**

#ANPRejectsAACP

ABC Certified R/No. 492



مياشتنۍ
# پښتون
باني باچاخان
پېښور

درېم دور، څوارلسم کال، 142 ګڼه، اکتوبر 2019ز

پښتون د نورو سياسي، ادبي او سماجي مجلو غوندې محض يوه مجله نهٔ ده ــ د دې مجلې پهٔ شا د دې خاورې د يو اهم دور تاريخ پروت دے او دا پهٔ خپله سينه کښې د قامي تحريک د يو ژوندي دور امينه مجله ده. دا مجله د باچاخان او د هغهٔ د ملګرو خدائي خدمتګارانو پښتنو ته سپارلے شوے يو سپېڅلے قامي امانت دے. دا د پښتون تاريخ هغه ارزښتمنه شتمني ده چې يو خوا د قامي تحريک تسلسل خوندي کوي او بل خوا د غه تسلسل ته دوام ورکولو کښې مهم کردار لوبوي. پښتون د تحريک د فکري او نظرياتي حدونو ساتندويه مجله ده او پهٔ هر پښتون د باچاخان، د هغهٔ د ملګرو او د خدائي خدمتګار غورځنګ دا حق دے چې پښتون سره د ليک لوست تړون کله هم غوڅ نهٔ کړي او لوستونکو ته د دې رسولو کښې هم خپل کردار تر سره کړي.

چيف ايډيټر
حيات روغانے

اعزازي ايډيټر
فيصل فاران

مرستيال
نائله شمال . سجاد ژوندون

قانوني مشير
ارباب عارف ايډوکيټ


ادارېه 2
۲۷ اکتوبر "پښتون" 6
د صوابۍ د علاقې دوره ارباب عبدالغفور خان 8
باچا خان: د عدم تشدد يو بشپړ باب بېدار اصلزے 10
افغان امن کانفرنس، کابل "پښتون" 15
د الف جان خټکې نظم او "برقعه" "پښتون" 20
د يوې جينۍ خط باچا خان 24
الف جان خټکه ډ. سهېل خان 25
د ژوند ګاډے روشن عبدالغني 28
يو تاريخ ساز شخصيت ډ. سيد وقارعلي شاه 29
د الف جان خټکې شخصيت او خدماتو ته سلام رحمت شاه قرېشي 33
الف جان خټکه، فيمنزم او خدائي خدمتګار تحريک ډ. خادم حسېن 34
ښځينه سوال او الف جان خټکه خان زمان کاکړ 35
الف جان خټکه: د پښتو شال عثمان خټک 47
د ازادۍ د غورځنګ مبارزه ليکواله فېروز خان صادق 50
مرګ خلقو تا ياده کړم حسينه ګل تنها 52
الف جانه: د رڼا علامت لائبه يوسفزۍ 54
الف جان خټکه شګفته محمد زۍ 55
باغي شاعره م ر شفق 58
روښانيت او د ښځو مقام اکبر کرګر 60
ښځه: د ورکې عاطفې پته عبدالغفور لېوال 63
افغانه ښځه: لهٔ پټې تر بازاره مير احمد ياد 66
ښځې او تعليم عبدالعزيز د خلوزو 68
مذکرې سترګې اسد الله غضنفر 70
د الف جان خټکې روح سره مکالمه نور الامين يوسفزے 72
الف جان خټکه او خدائي خدمتګار "پښتون" 74
خدائي خدمتګار غورځنګ او الف جان خټکه ډ. اسفنديار درانے 77
د الف جانې بي بې د شاعرۍ څو نمونې "پښتون" 81
چړې (افسانه) وږمه سبا عامر 86
وخت (افسانه) ثناء ساپۍ 88
"هېر به مې نهٔ شي" – حضرت الله بابا سليم خان ايډوکيټ 89
د باچا خان د تقريرونو پهٔ رڼا کښې اسرار د طورو 91
"د کلتور ورځ" (وېنا) اصغر خان اڅکزے 94
AACP: پښتونخوا د مارشل لاء لاندې رؤف يوسفزے 96
د رولان بارتهـ فکري نظام وزير اغا/ ابشاتر 98
بنياد ګري او ترهګري: يوه څېړنه ډ. خادم حسېن 100


پروين ملال، کلثوم زېب، زېبا اپريدۍ، ډاکټر صبا خان، فرزانه رسول صنم، انا يوسفزۍ، نازيه درانۍ، سوېره خان ننګيالۍ، شفيقه خپلواک، تور پيکۍ سنګين، ساجده مقبول تنها، ډاکټر روشن کليم، کشف اپريدۍ

مشاورتي کمېټي

افراسياب خټک، ډاکټر فضل الرحيم مروت، م.ر.شفق، منور سلطانه، انجينئير اعجاز ايسپزی، شمس بونېرۍ، لياقت سيماب، سيد وقار علي شاه کاکاخېل، نورالامين ايسپزی، ډاکټر سهېل خان، ډاکټر خادم حسېن، سميع الدين ارمان، خان زمان کاکړ، نورين امان شمع، سلېمان ايسپزی

باچاخان ټرسټ

www.pakhtoon1928.com
leek@pakhtoon1928.com
pakhtoon1928
091-2248594/2246851-3

انلائن اخستو د پاره
bit.ly/pakhtoon1928

د خط، کتابت او مني آرډر د پاره درک
پي او بکس نمبر 306 پېښور

سرکولېشن منېجر: رؤف يوسفزے
03339862071

باچاخان مرکز، پجګی روډ پېښور

فوټوګرافر: جنېد خان
کمپيوټر چارې: عزيز خان
مخپاڼه: باچاخان مرکز ګرافکس/ډيزائن ډسک

قيمت 50 روپۍ، د کال چنده 550 روپۍ (پاکستان کښې)

| بدل اشتراک | د يوې ګڼې بيه | د کال چنده |
|---|---|---|
| افغانستان | 30 افغانۍ | 300 |
| يورپ | 7 امريکائي ډالره | 70 |
| خليجي هېوادونه | 12 يو اې اي درهم | 120 |

د پښتون دا ګڼه د باچاخان مرکز پېښور نه امن پرنټنګ پرېس چاپ او خوره کړه

ډ. سيد وقار علي شاه کاکاخېل

# الف جان خټکه:
# يو تاريخ ساز شخصيت

په څوارلسم ستمبر کال 2019 په سوشل ميډيا باندې د ډاکټر سهېل خان له خوا يو خبر خپور کړے شو چې پکښې ئې ليکلي وو چې د پښتو نامتو ليکواله خدائي خدمتګاره الف جان خټکه په حق ورسېده.

د دې خبر په کتو ډېر خفه شوم. يو خوا کۀ مې ورته د بخښنې دعاګانې وغوښتې نو ورسره پېنځويشت کاله پخواني واقعات را په زړۀ شول او غواړم چې د "پښتون" لوستونکو سره ئې هم شريک کړم.

کله چې زۀ اکسفورډ يونيورسټۍ ته پي ايچ ډي کولو ته لاړم او په خدائي خدمتګارو او د پښتونخوا د هغه وخت په سياست مې کار شروع کړو نو په تحريک کښې د مېرمنو برخه را ته هم ډېره زياته ښکاره شوه. باچا خان او د هغۀ ملګرو په دې لړ کښې ډېر زيات کړاوونه کړي دي او هغوي خو عملي خلق وو نو پښتنو مېرمنو ته ئې خواستونه هم کړي دي او موقعې ئې ورته هم فراهم کړې دي چې دوي د ژوند په هر مېدان کښې را وړاندې شي او د خپلو نارينو سره څنګ په څنګ د ازادۍ په جنګ کښې برخه واخلي. زۀ څو څله بي بي سي لندن ته لاړم، هلته به مې دوو کسانو سره هر وخت په دې موضوع خبرې کولې - يو عبېد الله مهک ؤ او بله صفيه حليم خور وه. بيا د بي بي سي لندن نه مو يو څو پروګرامونه په "پښتون" باندې هم وکړل. دې سره مې په دې حقله تلوسه زياته شوه او چې کله هم د پي ايچ ډي په منځ کښې څو مياشتو د پاره هندوستان او بيا پاکستان ته راغلم نو د نورو موادو سره سره مو د "پښتون" غونډولو تابيا هم نوره زياته کړه.

هم په دې لړ کښې ما دا غوښتل چې د قبائيلي سيمو يو لنډ غونډې چکر هم ووهم. جواهر لعل نهرو په اکتوبر (1946) کښې د قبائيلي علاقو په سرکاري دوره راغلے ؤ. هغۀ د پېښور نه څان سره په دې موقع باچا خان او ډاکټر خان صاحب هم بوتلل غوښتل. اولف کېرو هغه وخت د دې صوبې ګورنر ؤ خو د اپرېل 1930 راهسې پرې خدائي خدمتګار او کانګرس ښۀ نۀ لګېدل. دے د مسلم ليګيانو په طرف ؤ. هغۀ پوره پوره کوشش وکړو چې وائسراے لارډ وېول ته ووائي چې نهرو د دې دورې نه منع کړي او کۀ دوره کوي هم نو بيا چې د کانګرس د ليډرانو او خدائي خدمتګارو سره سره د مسلم ليګ مشران هم څان سره بوځي. نهرو په دې وخت کښې په مرکز کښې د جوړ شوي حکومت نائب صدر ؤ او دا قبائل د هغۀ په ذمه وارۍ کښې شامل وو. وېول ګورنر ته ووئيل چې زۀ په هېڅ صورت نهرو نۀ شم مجبورولے څکه چې دا د هغۀ خپله فېصله ده چې څوک بوځي او کوم ځايونه ويني. کېرو بيا دا کوشش وکړو چې په هر صورت دا دوره ناکامه کړي. دلته ئې ماجب خوارۀ قبائيلي ملکان پوهه کړل چې دوي دې مظاهرې وکړي او نهرو دې بې عزته کړي.

ما دا غوښتل چې دا ټول ځايونه زۀ په خپله وګورم او خلق انټرويو کړم څکه چې *د نهرو استقبال په څينې ځايونو کښې په تورو جنډو سره شوے ؤ. دا توري جنډې خو د اروپائي قامونو د احتجاج طريقه ده*؛ نو ما څان سره خپل خوږ ملګرے اېمل خان خټک هم کړو څکه چې هغۀ ته دا علاقې معلومې وې او مونږ په 29 اکتوبر کال 1994 د پېښور نه د بنو په لار روان شو، څکه چې وړومبۍ شپه مو په بنو کښې وه. د کرايې موټر مو کړے ؤ. په لاره مو ګپ شپ لګولو. چې د کوهاټ د غاښي نه واوړېدو نو ډرائيور ووئيل چې د بنو نه مخکښې به په ګاډي کښې پټرول اچوو څکه چې هسې نۀ هلته د پټرولو کمے وي. په لاره روان وو چې دې کښې مو د احمدي بانډې بورډ په نظر راغلو. سړک په بازار تېرېدو. د بازار نه وړاندې زمونږ ښي لاس ته يو پټرول پمپ راغے. ډرائيور ته مو ووئيل چې دلته ګاډے ډک کړه. زۀ ور کوز شوم او کوم بنده چې د پېسو غونډېدو د پاره ولاړ ؤ، هغۀ سره مې خبرې په دې طور وکړې:

زۀ: مشره! تاسو د دې کلي يئ؟

ځواب: هو! هم د دې کلي يم.
زه: مشره! که خفه کېږې نه نو يو تپوس کول غواړم.
ځواب: سل تپوسونه خو وکړه، دې کښې د خفګان څه خبره ده؟
زه: مشره! په دې کلي کښې ډېره موده وړاندې د پاکستان د جوړېدو په وخت يوه مېرمنه اوسېده؛ هغې ډېر زيات ليکل په پښتو ژبه کړي دي او د هغه وخت يوه رساله "پښتون" کښې ئې چاپ کړي دي. د دې ښځې تعلق د باچا خان د خدائي خدمتګار تحريک سره ؤ او نوم ئې الف جان خټکه ؤ. دا مېرمن تاسو پېژنئ؟ دا ژوندۍ ده که په حق رسېدلې ده؟ که چرې په حق رسېدلې وي نو تاسو ما ته دا وئيلے شئ چې د هغې څوک خپل خپلوان شته او مونږ ورسره ليدل کتل کولے شو؟
ځواب: تاسو څوک يئ او دا ټول معلومات ولې کول غواړئ؟
زه: زه د کاکا صاحب اوسېدونکے يم، نن سبا په انګلېنډ کښې په باچا خان او خدائي خدمتګارو پي ايچ ډي کول غواړم. دا معلومات زما په دې لړ کښې پکار دي.
ځواب: ځوانه! الف جان خټکه زما مشره خور ده، بالکل ژوندۍ ده، په صحت روغه رمته ده. د بده مرغه ورسره نن ملاقات څکه نه شي کولے چې هغه زما د بل ورور او ورېرونو کره لاړه ده. هغوي په کوهاټ ټاون شپ کښې اوسېږي. د ماشومانو سنتونه دي. څو ورځې به هلته کښې وي او بيا به کلي ته واپس راځي.
د خوشحالۍ اختر را باندې راغلو، څکه چې مونږ خو ورپسې ګرځېدو او ما د خپلو ډېرو مشرانو او ليکوالو نه تپوسونه کړي وو چې دا مېرمنه ژوندۍ ده که نه؟ هېڅ چا سره ئې نه رابطه وه او نه معلومات.
د واپس راتلو لوظ مو ورسره وکړو، لاړو بنو ته. بيا لاړم د وزيرستان هغه ټول ځايونه مې وکتل کومو ځايونو ته چې جواهر لعل نهرو په اکتوبر 1946 کښې تللے ؤ، بلکې د يوه ملګري غفور شاه چې هم په قائد اعظم يونيورسټۍ کښې ئې سبق وئيلے ؤ او بيا نائب تحصيلدار ؤ او په رزمک کښې ؤ؛ د هغه په برکت مو هم په هغه سرکاري رېسټ هاوس کښې شپې هم وکړې چې په کوم کښې جواهر لعل نهرو پاتې شوے ؤ. يقيناً چې دا ډېر اوږد خو خوندور داستان دے او د "پښتون" لوستونکو سره به ئې په بل وخت شريک کړم. اوس راځم بيا د الف جانې خبرې ته.
د "پښتون" د اجراء نه پس که وکتے شي نو (د هندوستان د تقسيم نه مخکښې) په څلور دوره کښې تقسيم شوے دے. وړومبے دور د "مياشتې" په څېث د مۍ 1928 نه واخله تر اپرېل 1930 پورې دے – د قيصه خوانۍ د خونړۍ پېښې نه پس په خدائي خدمتګارۍ باندې پابندي ولګېده، باچا خان او ملګري ئې د جېل د تورو تمبو په شا بنديوان شول او په "پښتون" هم پابندي ولګېده. دا پابندي د اپرېل 1931 پورې جاري وه. کله چې باچا خان د ګانډهي – ارون معاهدې د لاندې له بنده راخلاص شو نو د مۍ کال 1931 نه "پښتون" بيا راوتل شروع شول. دا هم "مياشتيزه" وه. څو مياشتې وچلېده. په دسمبر 1931 کښې پېرنګي بيا په خدائي خدمتګارانو او په باچا خان ګزار وکړو او هر څه بيا بند شول. د "پښتون" درېم دور د کانګرس په وزارت کښې شروع کېږي دا ځل په مياشت کښې به درې رسالې راوتلې. دا درېم دور د اپرېل کال 1938 نه واخله تر دسمبر کال 1940 پورې ؤ. حکومت پرې بيا پابندي ولګوله. د "پښتون" څلورم دور د مۍ 1945 نه واخله تر اګست 1947 پورې دے. دې دوران کښې به په مياشت کښې څلور رسالې راوتې. د پاکستان د جوړېدو نه اګاهو دا د "پښتون" څلور دوره وو چې مې بيان کړل.
الف جان خټکه په وړومبو درې دورونو کښې نشته. هغه وخت چې څوک د ټولو نه زيات ليکل کوي او ډېرې اېغې نېغې ترخې او سختې خبرې کوي، هغه سيده بشري بېګم ده چې د زيارت کاکا صاحب اوسېدونکې وه او د "س ب ب" په نوم ئې شهرت لرلو. زما کليواله ده، مشره مو ده، په عزيز ولۍ کښې مو هم ده. ښې بدې ورسره وې، مرې ژوندې ته تګ راتګ هم ؤ خو د کاکاخېلو مېرمنو ستر او پرده خو مثالي وه – ما کوشش وکړو چې ورته ورسم او انټروېو ترې نه واخلم خو ملاقات مې ورسره و نه شو او سوالونه مې ورته واستول چې ځواب ئې په اته ويشتمه جنورۍ 1985 راکړو. دا عالمه مېرمن په شپاړسم اګست 2002 په حق ورسېده.

د "پښتون" په څلورم دور کښې د الف جان خټکې هومره لیکل بل چا نهٔ دي کړي. لیکل ئې هم ډېر په مدلله طریقه او د پښتون قام د لار ښوونې د پاره داسې کړي دي چې په تاریخ کښې ئې ځان ته یو خاص مقام پېدا کړے دے. د خداے تعالیٰ شکر گزار یم چې دا معلومات مو تر لاسه کړل.

د بده مرغه په وزیرستان کښې مو ډېرې ورځې تېرې کړې او واپس چې پېښور ته راتلو نو احمدي بانډه کښې مو د الف جان تپوس و نهٔ کړے شو. کله چې واپس راغلم نو خپل یو خوږ ملگرے چې لکه د مشر ورور راباندې گران دے، ډاکټر فضل الرحیم مروت ته مې ذکر وکړو چې الف جان ژوندے دہ او په صحت هم ښه روغه جوړه ده.

زمانې بیا تېرې شوې. زهٔ خو لارم انگلېنډ ته او واپس چې راغلم نو په قائد اعظم یونیورسټۍ کښې مې غوښتل چې باچا خان او په خدائي خدمتگارۍ درس ورکول شروع کړم خو د هغه وخت د حاکمانو په سبب د یونیورسټۍ مشران هم وېرېدل او هر چا راته دا وویل چې تهٔ اجازه نهٔ لرې چې په دې موضوعاتو دلته درس ورکړې. څو کاله پس الله تعالیٰ راباندې خپل فضل او خصوصي کرم وکړو؛ د دې جوگه شوم چې خپله دا فېصلې وکړې شم او په یونیورسټۍ کښې په واکدارانو دا ومنم. باچا خان مو هم په باقاعده طریقې سره په کورس کښې راوستو او خدائي خدمتگار هم په کورس کښې شامل شول. هغه د اجمل خټک صاحب خبره چې:

نن تول وطن د هغې محبوبا سندرې وائي
خټک چې بـه د ځـان سره ژړلـه کلـه کلـه

کله چې په صوبه کښې د عوامي نېشنل پارټۍ حکومت راغلو نو هغوي خپل مشران په ښه طور سره د یادولو اراده وکړه. زمونږ یو بل دروند مشر افراسیاب خټک او د صوبې وزیر اعلیٰ امیر حیدر خان هوتي یو داسې د ډېرې ستائینې کار وکړو چې د هغې علاقې د جینکو د پاره ئې کالج د الف جان خټکې په نوم جوړ کړو او نور ئې هم ډېر درناوے ورکړو. فضل الرحیم مروت چې هغه وخت په باچا خان مرکز کښې وُ، د هغهٔ په وېنا د الف جان انټرویوگانې رېکارډ کړې شوې او په دې طور دا تاریخي ورثه د ضائع کېدو نه بچ شوه.

د الف جان په ژوند او ادبي خدماتو خو پي ایچ ډي گانې کېدې شي. د هغې شاعري خو ځان له یوه ډېره اوږده موضوع ده. زهٔ به دلته صرف د هغې دوه نظمونه را واخلم او د لوستونکو سره به ئې شریک کړم. دا دواړه زما ډېر زیات خوښ دي. یو خو د تاریخ سره ایغ په نېغه تعلق لري او بل د هغه وخت د پښتنو مېرمنو د ژوند عکاسي کوي. هغه وخت څهٔ چې نن هم د پښتنو مېرمنو اکثریت هم په دې حال دے او بویه چې په راتلونکو لس شل کلونو کښې په دې کښې څهٔ بدلون راشي.

د فرورۍ د اوولسم تاریخ 1946 په "پښتون" کښې نظم "پښتنې جلې ته خطاب" په نوم د الف جان خټکې دا شعرونه شائع شوي دي:

راشـه راشـه د سـرحد پښتنې جلې! چـې د غـم خبـرې وکـړو یـو تـر بلـې
پـهٔ ایمـان وایـه پـهٔ کـوم ډېـران اوده وې؟ د ازل پـه ورځ چـې برخـې وېشـېدلې
د یورپ ښځې پهٔ شیش محل کښې اوسي تـهٔ نـازېږې د غوایـانو پـهٔ غـوجلې
د عـالم جونـه د شنو بـاغونو سېل کـړي هـر سـحر تـه چلـوې خپلـې خځلـې
متې نغښتې پـهٔ دېـوال تپـې سـپیاکې پـهٔ غوشـیانو دې لړلـې وې څنگلـې
نهٔ دې نمونځ نهٔ دې اودس نهٔ دې عمل شته د قـرآن حـدیث پـهٔ ځـاے وائـې بـدلې
لنډه دا چې نهٔ دې دیـن نـهٔ دې دنیا شوه د جـوگې پـهٔ شـان لـهٔ دواړو ووتلـې
دا ذلـت دې پـهٔ سـبب د جهالـت دے مور و پلار چې تهٔ مکتب تـه نهٔ لېږلې
د دوزخ ژوندون خو تـا پهٔ ځان قبول کړو خپلـې لونـه جهنـم تـه بیـایې ولـې؟
خـداے د پـاره د تعلیم زیرمـه ئـې وکـړه کـهٔ پـهٔ لـور د ژوندانـهٔ مـزې اخلـې
ښـهٔ کـالـې د جینکـو ښـهٔ تربیت دے نـهٔ اوږې ده، نـهٔ کـړې ده، نـهٔ پـایلې
طوق، بېړې او هتکړې دې ورلـه ساز کړل خـداے خبـر پـهٔ کـوم قصـور دې ونـهولې

ماشومانو له دې پوزه غوړې سورې کړل
داسې ظلم، داسې جبر – ولې ولې؟

پۀ واړۀ عمر کۀ تۀ وې خاورو لاندې
پۀ ځوانۍ کښې به چا ولې خرڅولې

د قرېشو جینکۍ لۀ تا نه ښې وې
پۀ ژوندونې به پلارانو ښخولې

پاک رسول چې د اُحد پۀ سر نعرې کړې
د عربو زولنۍ ئې وشلولې

هغه زوړ سبق در یاد فخر افغان کړو
شوې اوده پۀ غړولو سترګو ولې؟

غلامي د خدائے لعنت دے پۀ مونږ باندې
پښتنې ئې د سیالۍ نه وویستلې

راشه وشلوه د غارې زنځیرونه
کۀ دنیا کښې د عزت برخه اخلې

کۀ پاڅې لۀ خوبه پاڅه او کۀ نۀ وې
تر قیامته به پۀ خاورو کښې څملې

قافلې درځنې ډېرې وړاندې لاړې
رسېدل به دې هله شي چې تۀ ځغلې

نبغه لاړ د شریعت ده، روانېږه!
د الله پۀ رسۍ ښخې کړه منګولې

ظاهري حسن چې تا له خدائے درکړے
پۀ عالم کښې به مونډلے نۀ وي بلې

پۀ ایرو کښې د سرۀ لعل پۀ شان ښکاره وې
خالده ادیب خانم چې ولېدلې

هی افسوس چې باطني حسن دې هم وے
نمر پۀ شان بیا پۀ عالم کښې ځلېدلې

الف جان چې خپل تصویر ورله ښکاره کړو
پښتنې جونه ئې څنګ وژړولې[1]

د ځلیریشتم جون 1946 پۀ 'پښتون' کښې د الف جان ختکې شعرونه 'د پښتون لیډر څوک پکار دے؟' د سرخط لاندې چاپ شوي دي. وائي چې:

کۀ مرکز ئې پاکستان کښې هندوستان وي
خو لیډر دې د سرحد 'فخرِ افغان' وي

چې د غېرو لیډري شي پۀ سرحد کښې
نا پسنده به د هر پښتون پۀ ځان وي

ستا لیډر کله عیسیٰ کله موسیٰ شي
دې نه زیات به د پښتون څۀ کسرِ شان وي

پنجابے هندوستان دې چې لیډر وي
یاد لره چې سرا سر به د تا زیان وي

د پښتون جدا تهذیب بېل تمدن دے
هم هغه به پرې پوهېږي چې 'افغان' وي

کوم ائین چې د اغیار لۀ لاسه جوړ شي
د پښتون به یقیناً پۀ کښې تاوان وي

پۀ افغان به بې افغان څوک امیر مۀ شه
د کشمیر کۀ د پنجاب کۀ د ایران وي[2]

کله چې د هندوستان د تقسیم د فېصلې د پاره د وزارتي مشن د وفد (Cabinet Mission Delegation) درې غړي هندوستان ته راغلل او اول د څو ورځو د پاره ملاقاتونه ئې د هندوستان د سیاسي ګوندونو سره وکړل خو څۀ نتیجه ئې و نۀ وتله، بیا ئې خپل پلان را وړاندې کړو؛ د هغوی پۀ دې منصوبه نن هم ډېر خلق بحثونه کوي خو پوهېږي پرې نۀ - زۀ خو حق حېران د الف جان عقل، پوهې او فکر ته یم چې دا مېرمنه پرې څومره زر پوهه شوه چې پېرنګیانو د دهوکې د پاره وخت ورکړو، خو بیا ئې پۀ هندوستان خپله رایې لازمه کړه. هغه وائي:

نادان هندوستان پېرنګي بیا وغولول
ما تو قنه وه ګنلې دۀ ربنتیا وغولول

درې کسه مداریان لۀ ولایت نه وو راغلي
هندو سکه مسلمان ئې د اندیا وغولول

[1] ډاکټر سید وقار علي شاه، پښتنې ښځې او د قام خدمت، پېښور، باچا خان ټرسټ رېسرچ سنټر، 2012، مخونه 220-222
[2] هم دغه اثر، مخونه 242-243

خلاف ئې د مذهب پۀ نوم پېدا کړو هندوستان کښې
دا دوه به سره خپل وے کۀ دریم پۀ منځ کښې نۀ وے
یورپ او امریکې سترګو تـه واچولې خـاورې
راعـي او رعایا کښې ئې نفرت سره پېدا کړو
د کور دننه ځاے ئې یو فریق ته هم ورنۀ کړو
سکړک د هندوستان ئې ورته درې ځلو رټکړې کړو
کېکونه او پېښترۍ ئې ولایت د پاره کېښوې
روسي کاکا خبره مې پۀ زړۀ ولګېدله

نن دېر و حرم دواړه کلیسا وغولول
پۀ پټو مشورو کښې ئې بیا بیا وغولول
کم عقل "ساده خېل" ئې د ایشیاء وغولول
راجګان ئې د کشمیر او پټوډیا وغولول
کانګرس او مسلم لیګ ئې پۀ بېدیا وغولول
بې صبره ماشومان پرې زړې نیا وغولول
غریب هندوستانیان ئې پۀ دلیا وغولول
وې پټ ئې پۀ ترو کښې پۀ سنکهیا وغولول

د خلقو تېریستل دې د وړوکي کرشمه ده
زما او ستا پۀ شان ئې سل اویا وغولول[3]

لکه چې مې وړاندې ووئیل، الف جان خټکه ځان له یو تاریخ ساز شخصیت ؤ. پۀ هغې باندې خو ډېرې څېړنې کېدې شي. الله دې وکړي چې کورنۍ ئې د شاعرۍ کلام محفوظ ساتلے وي. پۀ "پښتون" کښې خو ډېر زیات کلام موجود دے خو بیا هم نور به زما پۀ خیال ګڼ شمېر داسې موضوعاتو باندې دې لیکوالې شاعري کړې وي چې "پښتون" کښې به چاپ نۀ وي. دا به پۀ راتلونکو نسلونو ډېر غټ او لوے احسان وي کۀ چرې د کورنۍ غړو ئې باچا خان مرکز سره تعاون وکړو او د هغې چاپي او ناچاپي اثار کوم چې (کۀ) .دوي سره موجود وي، باچا خان مرکز ته ورکړي چې هلته پۀ ښه طریقه سره محفوظ پاتې شي.

[3] ډاکټر سید وقار علي شاه، پښتنې ښځې او د قام خدمت، پېښور، باچا خان ټرسټ ریسرچ سنټر، 2012، مخونه 256-257



خدائي خدمتګار تحریک د پښتون افغان قام او خاورې یو داسې تحریک دے چې دنیا کښې ئې ډېر کم مثال پېدا کېدے شي. دې تحریک دې قام او خاورې ته د عدم تشدد پۀ فلسفه د عمل کولو د پاره یو منظم چوکاټ ورکړو. د تعلیم نه تر معاشرت او تر معاشیاتو، رواجونو او کلتور دې تحریک پۀ پښتون قام او خاوره مثبت اثرات وکړل.
الف جان خټکه د دې تحریک یو داسې نوم دے چې د "پښتون" پۀ پاڼو ئې د پېرنګي خلاف د وطن ازادۍ د پاره یو شمېر نظمونه او لیکونه چاپ دي. فخرِ افغان بابا چې به وئیل چې د ښځو د غېر فعالیت سره زمونږ نیم وجود غېر فعاله وي او ځکه باید ښځې د سړو سره اوږه پۀ اوږه ودرېږي؛ الف جان د دغه نیم غېر فعاله وجود فعال کولو د پاره فکري زیار کولو او ځکه ورته فخرِ افغان بابا خصوصي توجه کوله او د هغې نظمونه به ئې "پښتون" کښې د خپلو ادارتي نوټونو سره چاپ کول.
پۀ څوارلسم ستمبر 2019 الف جان خټکې لۀ دې فاني دنیا سترګې پټې کړې. اِنا لله و اِنا الیه راجعون.
زۀ د خدائي خدمتګارې الف جانې خټکې د مرګ پۀ دې غم کښې د هغې د کورنۍ او د "پښتون" رسالې سره خپل غم شریکوم او د لوے څښتن نه دعا کوم چې د هغې هغه جهان ښکلے کړي.

رحمت شاه قریشي
ګومل بازار

ښځې هم زړونه لري، زړو کښې خواهشات لري
سر کښې مازغهٔ لري، مزغو کښې احساسات لري
يو دې تعليم نه کړې محرومه د ړوند په مثال
بل دې بندي کړې په کورونو کښې د غلو په مثال

د دې مقصدي شعرونو خالقه او د خدائي خدمتګار تحريک تکړه او بېداره مېرمن الف جان خټکه بي بي کهٔ څهٔ هم زمونږ په منځ کښې پاتې نهٔ شوه خو د هغې شاعرانه تفکر او قوم پرستانه کردار به تل زمونږ په زړونو او ذهنونو کښې روښانه او ژوندے وي. هغې تل د پښتنو ښځو د احساساتو او جذباتو ترجماني د خپل نظم او نثر په ذريعه کړې ده او په ټولنه کښې ئې هغوي ته خپل مقام او حېثيت ښودلے دے.

د الف جان خټکې غم د عوامي نېشنل پارټۍ غم دے. خدائے پاک دې د الف جان خټکې هغه جهان روښانه کړي او د هغې کورنۍ ته دې الله د زړهٔ صبر ورکړي! امين.

اسفنديار ولي خان
ولي باغ



استاد سليمان لائق کابل کښې په پېنځم ستمبر چاودنه کښې ژوبل شوے دے؛ خدايه! د زرتشت ژوبل شوے "ګات" درڅخه روغ غواړو.



د ولي باغ ملنګ او د عوامي نېشنل ګوند لوړلائي مشر بسم الله لوني سخت ناروغه دے؛ خپلو دعاګانو کښې ئې ياد ساتئ.



## د عوامي نېشنل پارټۍ سوات مننه

د عوامي نېشنل پارټۍ د صوبائي کابينې دا فېصله د درناوي وړ ده چې د پښتونخوا ټولو نوو او زړو ضلعو ته ئې د زلمي صوبائي صدر ايمل ولي خان د دورو کولو وړانديز مخې ته راوړے او دې لړ کښې وړومبۍ دوره سوات ته تر سره شوه.

د سوات د ضلعې، تحصيلونو او ټپو تنظيمونو چې د صوبائي صدر دې دورې د پاره کومې سترې کړې دي، د ستائينې وړ دي. ايمل ولي خان دې دوره کښې د مينګورې نه چاپېره د سوات ضلعې د لرې نژدې کلو او بانډو دورې وکړې، کارنر مېټنګونه ئې وکړل، لويې جلسې ئې وکړې او په هره دېره او حجره وګرځېدو چې مرور مشران او ملګري پخلا کړي او څوک چې ناست دي، هغوي را پاڅوي.

دې پسې د بونېر ضلعې دوره ده او ورپسې نورې - دا دورې د تاريخي اهميت وړ دي او بايد ضلعي ملګري د يوې ضلعې د دورې نه وړاندې هلته خپل صفونه سم کړي چې د دورې توانائي ټول په ټوله د قامي مقصد د پاره استعمال شي.